**بسم الله الرحمن الرحيم**

# د زکات مستحقینو ته د زکات ورکولو اعظمي حد

**شاني اياز ته:**

**(ژباړه)**

**پوښتنه:**

السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته!

زه یوه پوښتنه لرم، هیله ده راته ځواب یې کړئ.

یو کس په زکات کې څومره پیسې ترلاسه کولی شي؟ د بېلگې په ډول؛ یو کس دومره پیسې ترلاسه کولی شي چې کور پرې جوړ کړي، البته که دغه کس کور ونه لري؟ یا هم داسې یو حد شته چې یو کس څومره پیسې ترلاسه کولی شي؟ جزاک الله

**ځواب:**

وعلیکم السلام ورحمة الله وبرکاته!

ستا پوښتنه مستحق کس ته د زکات د اعظمي حد ورکولو په اړه ده.

د دې پوښتنې ځواب دا دی چې په شریعت کې په دې اړه کوم ښکاره نص نشته چې وښيي د زکات اعظمي حد څومره دی، چې یو مستحق کس ته باید ورکړل شي. خو د زکات (صدقې) په اړه ایت شته چې الله سبحانه وتعالی فرمايي:

**﴿إِنَّمَا الصَّدَقَاتُ لِلْفُقَرَاءِ وَالْمَسَاكِينِ وَالْعَامِلِينَ عَلَيْهَا وَالْمُؤَلَّفَةِ قُلُوبُهُمْ وَفِي الرِّقَابِ وَالْغَارِمِينَ وَفِي سَبِيلِ اللَّهِ وَابْنِ السَّبِيلِ فَرِيضَةً مِنَ اللَّهِ وَاللَّهُ عَلِيمٌ حَكِيمٌ﴾**

[التوبة:٦٠]

*ژباړه: دا صدقات (زکاتونه) د فقیرانو او مسکینانو لپاره دي او د هغو خلکو لپاره چې د صدقې (زکاتونو) د چارو مامورین وي، د هغو لپاره چې موخه یې زړونه لاسته راوړل وي. دغه راز د غاړې خلاصول (مسوولیت اداکول) او د پوروړو د مرستې لپاره، د الله په لار کې، او په مسافر پالنه کې د استعمالولو لپاره دي. دا د الله تعالی له لورې یوه فریضه ده. الله سبحانه وتعالی په هر څه پوهېدونکی او د حکمت څښتن دی.*

کېدای شي له دغه ایت څخه یو مستحق کس ته د اعظمي اندازې زکات ورکولو په اړه استنباط وکړو. دا ځکه په دې ایت کې زکات اخیستونکي کسان له بشپړ وضاحت سره بیان شوي او دوی ته د زکات ورکولو علت هم ښودل شوی دی. دا په دې مانا چې زکات اخیستونکي د دوی د شته حالت په نظر کې نیولو سره د زکات مستحقین ګرځېدلي دي. تر کومه ځایه چې په پورته ایت کې د زکات مستحقین ډلبندي شوي، نو زکات همدوی ته ورکول کېږي. که د یادې ډلبندۍ له مخې کوم څوک د زکات مستحق نه شي، نو زکات نه ورکول کېږي.

د بېلګې په ډول: د بېوزلۍ او اړمنتیا د تعریف له مخې بېوزله او اړمن کسان د زکات مستحقین دي، نو دوی ته د زکات ورکولو اعظمي حد هغه مقدار زکات دی، چې دوی د اړتیا له حالت څخه وباسي. یعني هغه زکات چې دوی شتمنوي او دوی د زکات د مستحقینو له ډلې څخه باسي. یا په بل عبارت؛ له زکات ورکولو وروسته پر دوی هغه تعریف پلی نه شي چې یو کس یې له مخې فقیر او بېوزله پېژندل کېږي. دوی ته ښایي هغومره اندازه زکات ورنه کړل شي چې فقر له منځه وړي او یاده اندازه کېدای شي له یوه تن څخه بل تن ته او له یوه حالت څخه بل حالت ته توپیر ولري.

د بېلګې په ډول، زکات ټولونکي (العاملین علیها) ته ځکه زکات ورکول کېږي، چې د دوی دنده همدغه زکات ټولول دي، یعني د زکات ټولولو په لار کې د دوی د هڅو په بدل کې زکات ورکول کېږي. دولت کولی شي د دوی هڅو ته په کتو تنخوا ورکړي. که دولت دوی ته تنخواګانې ونه ټاکي، دوی ته به د دوی د هڅو بدله (المثل) ورکول کېږي، نه زیات. ځکه زکات دوی ته نه دی وربښل شوی، دوی یوازې د خپلو هڅو بدله ترلاسه کوي.

دغه راز پوروړي (غارمین) ته په دې موخه زکات ورکول کېږي چې خپل پور په بشپړه توګه تادیه کړي او تر دې زیات شی په زکات کې نه ورکول کېږي، ځکه دوی د پور له امله د زکات مستحقین ګڼل شوي دي. که دغه تعریف بدلون ومومي او پر دوی نه پلی کېده، نو دوی د زکات مستحقین نه دي.

له همدې امله دا د ټولو ډلو لپاره صدق کوي؛ دوی ته زکات په دې موخه ورکول کېږي، ترڅو د دوی دغه حالت چې دوی یې د زکات مستحقین ګرځولي دي، ترې لرې شي. که د دوی دغه حالت بدلون مومي چې دوی یې د زکات مستحقین ګرځولي ، بیا نو دوی د زکات مسحقین نه دي.

له پورته ښودل شویو ماناوو څخه یې موږ ځیني د " خلافت د دولت مالي سرچینو" کتاب کې د زکات د مصارفو په فصل کې ذکر کړي چې په لاندې ډول دي:

۱. بېوزله (الفقرا): هغه کسان دي چې د خپلو لومړنیو اړتیاوو پوره کولو لپاره په کافي اندازه پیسې لاسته نه شي راوړلای، ترڅو خپلې لومړنۍ اړتیاوې لکه غذا، جامې او سرپناه پرې برابره کړي. هر هغه څوک چې د خپلو لومړنیو اړتیاوو د پوره کولو لپاره لږ عاید لاسته راوړي بېوزله ګڼل کېږي، نو صدقه (زکات) اخیستل ورته جواز لري. دغه کسان زکات اخیستلی شي، دومره اندازه صدقه ورکول کېدای شي چې د ده اړتیا او فقر له منځه یوسي. الله سبحانه وتعالی شتمن له زکات اخیستلو منع کړی دي. امام احمد او اهل سنت له عبدالله بن عامر څخه روایت کوي: د الله رسول صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي:

«**لا تحل الصدقة لغنيّ، ولا لذي مِرَّةٍ سَوِيّ**» ***ژباړه:*** *صدقه (زکات) د شتمن کس لپاره نه ده روا او نه هغه چا ته روا ده چې روغ او پیاوړی وجود لري.* ذي مرة هغه کس دی چې ځواک او د رزق لاسته راوړلو توان ولري. که دی توانایي او ځواک ونه لري، نو بیا بېوزله ګڼل کېږي. شتمن هغه کس دی چې له نورو څخه په مالي لحاظ خپلواک وي. داسې چې تر خپلو اړتیاوو زیات عاید لاسته رواړي. په دې اړه احادیث شته چې شتمن کس یې واضح کړی دی. عبدالله بن مسعود وایي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي:

«**ما من أحد يسأل مسألة، وهو عنها غني، إلاّ جاءت يوم القيامة كدوحاً، أو خدوشاً، أو خموشاً في وجهه. قيل: يا رسول الله، وما غناه، أو ما يغنيه؟ قال: خمسون درهماً، أو حسابها من الذهب**» (رواه الخمسة)

***ژباړه:*** *هیڅوک په داسې حال کې د کوم شي غوښتنه نه کوي چې شتمن وي. که داسې وکړي، دی به د قیامت په ورځ په داسې حالت کې راشي چې مخ یې چیچل شوی، توږل شوی او ټپي شوی وي. یو چا وویل، ای د الله رسوله صلی الله علیه وسلم، د ده شتمني څومره کېدای شي؟ رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: ۵۰ درهمه یا د هغه معادل سره زر.*

څوک چې ۵۰ درهمه یا ۱۴۸،۷۵ ګرامه سپین زر، یا یې معادل سره زر ولري او د ده د غذا، جامو، سرپناه، کورنۍ ماشومانو او نوکر تر لګښتونو زیات شي، دی بډای ګڼل کېږي او د ده لپاره جواز نه شته چې د زکات مال واخلي.

۲. مفلس (المساکین): دوی هغه کسان دي چې څه نه لري او مفلسۍ سخت راګیر کړي وي، خو بیا هم دوی له خلکو څخه د کوم شي غوښتنه یا سوال نه کوي. ابوهریره رضی الله عنه له رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه روایت کوي چې وایي:

**«ليس المسكين الذي يطوف على النّاس، تَرُدُّه اللقمة واللقمتان، والتمرة والتمرتان، ولكن المسكين الذي لا يجد غنى يغنيه، ولا يفطن به فيتصدق عليه، ولا يقوم فيسأل النّاس»**

***ژباړه:*** *مسکین هغه کس نه دی چې په خلکو پسې ځي او له دوی څخه یوه یا دوې ګولې ډوډۍ یا یوه یا دوې خرماوې غواړي. مسکین هغه څوک دی چې دومره څه نه شي پیدا کولی چې د ده لپاره بسنه وکړي او نه هم خلک د ده حالت درک کولای شي، ترڅو خیرات ورکړي. نه هم دی له خلکو سوال کوي. (متفق علیه)*

مسکین د الله سبحانه تعالی د قول مطابق تر فقیر د شتمنۍ له اړخه خوار دی: (**أَوْ مِسْكِيناً ذَا مَتْرَبَةٍ**) [البلد: ١٦] ***ژباړه:*** *یا پر خاورو ناست مسکین ته.* یعني د ده د لوږې او لوځوالي له امله په خاورو ککړ وي. زکات (صدقه) د مسکین لپاره روا دی او دی یې ترلاسه کولی شي. ده ته په دومره اندازه صدقه ورکول کېدای شي چې د ده نیستي پرې لرې شي او دی پرې خپلې لومړنۍ اړتیاوې پوره کړای شي.

٣. هغه کسان چې د زکات ټولولو دنده ورسپارل شوې ده (العاملین علیها): دوی پیغام رسوونکي او د صدقې ټولونکي دي او دنده ورکړل شوې ده چې صدقه (زکات) له هغو کسانو څخه ټول کړي چې پرې فرض دی، یا ټول شوی زکات پر مستحقینو وېشي. دوی ته هم صدقه (زکات) ورکول کېږي، ان که شتمن هم وي. دوی ته د زکات ټولولو یا ویشلو په مقابل کې د زکات مال ورکول کېږي. ابو عبید له عطا بن یاسر څخه روایت کوي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل:

**«لا تحل الصدقة لغني إلاّ لخمسة: عامل عليها، أو رجل اشتراها بماله، أو رجل له جار فقير تصدّق عليه بصدقة فأهداها إليه، أو غازٍ، أو مغرمٍ»**

***ژباړه:*** *صدقه (زکات) اخیستل د شتمن لپاره روا نه دي، پرته له دغو پنځو کسانو څخه: هغه څوک چې صدقه ټولوي، هغه سړی چې صدقه په خپلو پیسو سره پېري، هغه چا ته چې صدقه ورکړل شي او دی یې خپل ګاونډي ته خیرات کړي، مجاهد یا پوروړی.*

بسر بن سعید له ابن السعدي المالکي څخه روایت کوي: "عمر رضی الله عنه زه د صدقې راټولولو مسوول وټاکم. کله چې ما یاده چاره بشپړه کړه او صدقه مې ده ته تسلیم کړه، ده زما لپاره د یو څه مزد دستور ورکړ. ما وویل: ما د الله سبحانه وتعالی د رضا لپاره یاده چاره ترسره کړې. ده وویل: هغه څه چې زه درکوم هغه واخله. زه د رسول الله صلی الله علیه وسلم په زمانه کې په دې دنده ګومارل شوی وم. هغه صلی الله علیه وسلم زه ګومارلی وم او ما همدا خبره وکړه چې تا اوس ماته وویل. رسول الله صلی الله علیه وسلم راته وفرمایل:

«**إذا أعطيت شيئاً من غير أن تَسألَ فَكُلْ وتَصَدَّق**»(متفق عليه) ***ژباړه:*** *که تا ته له سوال کولو څخه پرته یو څه درکول کېږي، ویې خوره او خیرات یې کړه.*

۴. هغوی چې په زړونو کې یې باید محبت پیدا شي (مؤلفة القلوبه): دا هغه حاکمان، مشران، متنفذین او مخور کسان دي چې لا یې پر اسلام ثبات نه وي پیدا کړی. په داسې حال کې چې خلیفه یا د هغه والیان دا مناسبه وګڼي، ترڅو دغو کسانو ته د زکات یوه برخه ورکړي او د دوی په زړونو کې اسلام بشپړ ځای ونیسي. عقیدې یې پیاوړې شي او له دوی څخه د اسلام او مسلمانانو په ګټه کار واخیستل شي، یا هم د دوی پر ټولنه اغېز وکړي. دا هغه حالت ته ورته دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم ابوسفیان، عیینه بن حصن، الأقرع بن حابس او عباس بن مرداس او نورو ته زکات ورکاوه. عمرو بن تغلب وایي:

«**أن رسول الله صلى الله عليه وسلم أتي بمال، أو سبي فقسمه، فأعطى رجالاً، وترك رجالاً، فبلغه أن الذين ترك عتبوا، فحمد الله، ثم أثنى عليه، ثمّ قال: أمَّا بعد، فوالله إني لأعطي الرجل، وأدع الرجل، والذي أدع أحب إليّ من الذي أعطي، ولكني أعطي أقواماً، لما أرى في قلوبهم من الجزع والهلع، وأَكِلُ أقواماً إلى ما جعل الله في قلوبهم من الغنى والخير**» [بخاري]

***ژباړه:*** *یو څه پیسې او اسیران رسول الله صلی الله علیه وسلم ته په لاس ورغلل، نو ویې وېشل. رسول الله صلی الله علیه وسلم دغه شیان ځینو خلکو ته ورکړل او ځینې یې پرېښودل. وروسته خبر شو، هغو کسانو چې ونډه نه وه ترلاسه کړې د کمې احساس یې کاوه. نو رسول الله صلی الله علیه وسلم د الله سبحانه وتعالی حمد او ثنا وویل او زیاته یې کړه: پوه شئ! پر الله قسم ما یوه سړي ته ونډه ورکړه او بل مې پرېښود. هغه کس چې ما پرېښود ما ته ډېر غوره دی، تر هغه چا چې ما ونډه ورکړه. البته، زه هغو خلکو ته چې د دوی په زړونو کې وېره او بې صبري وینم ونډه ورکوم او زه پر نورو هغو خلکو باور لرم چې الله سبحانه وتعالی د دوی په زړونو کې غنا او نیکي اېښې ده.*

هغوی چې په زړونو کې یې باید محبت واچول شي په هغه صورت کې د زکات مستحقین دي چې مسلمانان وي. که دوی کافران وي، دوی ته زکات نه ورکول کېږي، ځکه کافرانو ته زکات ورکول نه دي روا. دا د رسول الله صلی الله علیه وسلم د هغې وینا مطابق چې یمن ته یې د معاذ د لېږلو پر مهال وکړه:

«**فأعلمهم أن الله افترض عليهم صدقة في أموالهم، تؤخذ من أغنيائهم، وترد على فقرائهم**» ***ژباړه:*** *دوی پوه کړه چې الله سبحانه وتعالی د دوی پر شتمنو زکات فرض کړی دی چې ورڅخه اخیستل کېږي او بېوزلو ته ورکول کېږي.* [دا حدیث بخاري له ابن عباس څخه روایت کړی دی] همدې ته ورته دوی ته په هغه صورت کې

زکات نه ورکول کېږي چې د زکات ورکولو علت شتون ونه لري. د علت له مخې دوی ته مخکې زکات ورکول کېده. که دلیل نه وي دوی ته زکات نه ورکول کېږي. لکه ابوبکر او عمر رضی الله تعالی عنهما چې د اسلام له پیاوړتیا او پراختیا وروسته مولفة القلوب ته زکات ورکول بند کړل.

۵. غلامان (الرقاب): هغو غلامانو ته زکات ورکول کېږي، چې یا ورسره بادار د ازادېدلو تړون کړی وي، یا دوی د زکات په پیسو پېرل کېږي او ازادېږي البته په هغه صورت کې چې د ازادولو تړون یې نه وي شوی، خو اوسمهال غلامان نشته.

٦. پوروړي (الغارمین): دوی هغه څوک دي چې پوروړي دي او د پور په ادا کولو کې له ستونزو سره مخ وي. دوی ته ځکه زکات ورکول کېږي چې خپل پورونه تادیه کړي او د خلکو ترمنځ د شخړو مخنیوی وشي، دیت ورکړي یا خپل شخصي پورونه ورکړي. هغه پوروړي چې دیت ورکوي یا شخړې حلوي هغوی ته هم زکات ورکول کېږي که څه هم هغوی شتمن یا بېوزله وي، فقط په هغه اندازه چې دوی خپل پورونه تادیه کړي، نه زیات. انس رضی الله عنه روایت کوي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل:

**«إن المسألة لا تحل إلاّ لثلاثة، لذي فقر مدقع، أو لذي غرم مفظع، أو لذي دم موجع»**

***ژباړه:*** *دروېزه کول له دریو کسانو پرته بل چاته نه دي روا: ډېر زیات فقیر، سخت پوروړی او هغه کس چې دیت یې پر غاړه وي او د نه خلاصولو په صورت کې یې د خپلوان ژوند په خطر کې وي.*

مسلم، ابوداوود او النسایي له قبیصة بن مخارق الهلالي څخه روایت کوي چې نوموړی وایي:

**«تحملت حَمَالَةً، فأتيت رسول الله صلى الله عليه وسلم، أساله فيها، فقال: أقم حتى تأتينا الصدقة، فنأمر لك بها، ثمّ قال: يا قبيصة، إن المسألة لا تحل إلا لأحد ثلاثة: رجل تحمل حمالة، فحلت له المسألة حتى يصيبها، ثمّ يمسك، ورجل أصابته جائحة اجتاحت ماله، فحلت له المسألة حتى يصيب قواماً من عيش، أو قال سداداً من عيش، ورجل أصابته فاقة حتى يقول ثلاثة من ذوي الحجا من قومه لقد أصابت فلاناً فاقة، فحلت له المسألة حتى يصيب قواماً من عيش، أو قال: سداداً من عيش، فما سواهن في المسألة يا قبيصة، فَسُحْتٌ يأكلها صاحبها سُحْتاً»**

***ژباړه:*** *زه تر ډېر فشار لاندې راغلم، نو د سوال (دروېزه) لپاره رسول الله صلی الله علیه وسلم ته ولاړم. هغه راته وفرمایل: په تمه اوسه ترڅو چې موږ ته صدقې راشي، نو له هغو څخه به یې درکړم. وروسته یې وویل: ای*

*قبیصة، سوال کول پرته له درو تنو بل چا ته نه دي روا: هغه کس چې تر ډېر فشار لاندې راشي، نو ده ته جواز شته چې د صدقې غوښتنه وکړي او ترلاسه يې کړي بيا دې د نورې صدقې غوښتنه نه کوي؛ هغه کس چې شتمني يې له مصيبت سره مخ شي، هغه ته جواز شته چې سوال وکړي، ترڅو دومره اندازه ترلاسه کړي چې د ده د ژوند لپاره بسنه وکړي یا هم دومره ترلاسه چې د ده اړتیاوې پوره کړي او هغه کس چې له فقر سره مخ وي او د ده د محل دري عاقل سړي ووايي چې فلاني سړی له فقر سره مخ دی، بیا ده ته جواز شته چې سوال وکړي، ترڅو دومره اندازه ترلاسه کړي چې د ده د ژوند لپاره بسنه وکړي یا هم دومره څه تر لاسه کړي چې د ده اړتیاوې پوره کړي. له یادو کسانو پرته چې هر څوک سوال کوي، ای قبیصه، هغه حرامې پیسې خوري.*

هغه کسان چې پور اخلي، ترڅو خپلې شخصي چارې مخ ته یوسي دوی ته هم زکات ورکول کېږي، ترڅو خپل پورونه ادا کړي. که دوی بېوزله وي یا هم نه وي بېوزله، خو نه شي کولی خپل پورونه ادا کړي. که شتمن وي او کولی شي چې پورونه ادا کړي دوی ته هیڅ نه ورکول کېږي، ځکه دوی ته زکات نه دی روا.

۷. د الله سبحانه وتعالی په لار کې (في سبیل الله): یعني جهاد، کوم څه چې د جهاد لپاره لازم وي او جهاد پرې مخ ته ځي لکه: د پوځ تجهیز، د فابریکو تاسیسول او د وسلو تولید. کله چې په قران کریم کې د «في سبیل الله» لفظ یادونه کېږي هدف ترې له جهاد پرته بل شی نه دي. زکات د جهاد لپاره لګول کېږي او اړتیاو يې هم شته. کوم حد يې هم نه دی معلوم چې څومره باید ولګول شي. نو د دې جواز شته چې د خلیفه له حکم سره سم ټول زکات یا یوه برخه د جهاد لپاره ولګول شي. ابو داود له ابي سعید څخه روایت کوي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل:

«**لا تحل الصدقة لغني إلاّ في سبيل الله**...» ***ژباړه:*** *د شتمن سړي لپاره زکات نه شته پرته له دې چې د الله په لاره کې يې ورکړي*.... او په بل روایت کې: « ...**أو لغازٍ في سبيل الله**...» ***ژباړه:*** *یا د الله سبحانه وتعالی په لار کې د مجاهد لپاره.*

۸. لاروی مسافر (ابن السبیل): هغه کس چې سفر يې ځنډېدلی وي او دومره پیسې ونه لري چې کور ته ځان ورسوي. ده ته دومره اندازه زکات ورکول کېږي چې ټاکل شوي ځای ته ځان ورسوي، کچه يې نه ده مالومه ښايي لږ وي یا زیات. همدارنګه ده ته د ده اړتیا وړ لګښتونه ورکول کېږي، ترڅو ټاکل شوي ځای ته ځان ورسوي ان که دی په خپله سیمه کې شتمن هم وي. رسول الله صلی الله علیه وسلم په دې تړاو فرمايي: «**لا تحل الصدقة لغني إلاّ في سبيل الله، أو ابن السبيل، أو**...» *ژباړه: شتمن ته صدقه نه ده روا پرته د الله په لاره کې، یا مسافر، یا... [ابو داود]*

له یادو اتو ډلو پرته بل چا ته زکات نه ورکول کېږي. زکات د مساجدو، روغتونونو، خیریه اسانتیاوو په جوړولو یا د دولت یا امت په چارو کې نه شي مصرف کېدای، ځکه زکات شخصي شتمني ده چې د اتو ډلو لپاره ځانګړې شوې ده او نور هېڅوک له دوی سره په زکات کې ونډه نه لري. خلیفه مسوولیت لري چې یادو اتو ډلو ته زکات، د دوی د ګټو په نظر کې نیولو سره ورکړي. لکه څرنګه چې رسول الله صلی الله علیه وسلم او تر هغه وروسته خلیفه ګانو د زکات ورکولو څارنه کړې ده. خلیفه ته جواز شته چې د اتو ډلو ترمنځ زکات وویشي او دی کولی شي چې له یادو اتو ډلو څخه ځینې د مصلحتونو له مخې ترې مستثنا کړي. که له یادو ډلو څخه څوک پیدا نه شي، زکات د بیت المال د صدقاتو په ریاست کې ساتل کېږي، ترڅو په هغه ځای چې اړتیا یې وي د مستحقینو لپاره ولګول شي.

ابن عباس د صدقې په تړاو وايي: «که له یادو اتو ډلو څخه پر یوې ډلې هم صدقه مصرف شي، صدقه صحیح ده.» عطا او حسن هم ورته نظر لري. مالک وايي: «د صدقې ویشل زموږ په اند اجتهادي موضوع ده چې د والي صلاحیت دی او والي حالاتو ته په کتو، هره ډله چې اړتیا ورته لري او د نورو په نسبت لومړیتوب لري ورکوي یې.»

پورته نقل قولونه د (الاموال في دولت الاخلافه)کتاب څخه را اخیستل شوي دي.

فکر کوم همدومره به بس وي او الله سبحانه وتعالی تر ټولو عالم او حاکم ذات دی.

**ستاسو ورور عطا بن خلیل ابوالرشته**

**۱۴۴۱ هـ.ق د شعبان ۱۷مه**

**۲۰۲۰ م د اپریل ۱۰مه**

**ژباړن: صدیق احمدزی**